أَيُّمَا امْرَأَةٍ نَكَحَتْ بِغَيْرِ إِذْنِ مَوَالِيهَا، فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ -ثَلَاثَ مَرَّاتٍ- فَإِنْ دَخَلَ بِهَا فَالْمَهْرُ لَهَا بِمَا أَصَابَ مِنْهَا، فَإِنْ تَشَاجَرُوا فَالسُّلْطَانُ وَلِيُّ مَنْ لَا وَلِيَّ لَهُ». «کومه ښځه چې د خپل سرپرست له اجازې پرته نکاح وکړي، د هغې نکاح باطله ده - دري ځلې يې دا خبره تکرار کړ- که چېرته ورسره يو ځای شو د هغې لپاره د هغه څه مهر دی چې کار يې تر اخيستلی دی، که چېرته يې سره شخړه راغله نو پادشاه د هغه چا سرپرست دی چې سرپرست نه لري

له ام المؤمنين عائشې رضی الله عنها څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «أَيُّمَا امْرَأَةٍ نَكَحَتْ بِغَيْرِ إِذْنِ مَوَالِيهَا، فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ -ثَلَاثَ مَرَّاتٍ- فَإِنْ دَخَلَ بِهَا فَالْمَهْرُ لَهَا بِمَا أَصَابَ مِنْهَا، فَإِنْ تَشَاجَرُوا فَالسُّلْطَانُ وَلِيُّ مَنْ لَا وَلِيَّ لَهُ». «کومه ښځه چې د خپل سرپرست له اجازې پرته نکاح وکړي، د هغې نکاح باطله ده - دري ځلې يې دا خبره تکرار کړ- که چېرته ورسره يو ځای شو د هغې لپاره د هغه څه مهر دی چې کار يې تر اخيستلی دی، که چېرته يې سره شخړه راغله نو پادشاه د هغه چا سرپرست دی چې سرپرست نه لري».

[صحيح دی] [ابو داود، الترمذي، ابن ماجه او احمد روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغې ښځې په اړه خبرداری ورکړی چې د سرپرستانو له اجازې پرته چاته ځان واده کړي، او دا چې نکاح يې باطله ده، هغه دا خبره دري ځلې تکرار کړه، لکه بيخي چې شوي نه وي. نو که چېرته يې خاوند ورسره د سرپرست له اجازې پرته يو ځای شوی و، نو دا چې د شرمګاه له لارې يې ورسره کوروالی کړی دی، پوره مهر به ورکوي. بيا که چېرته سرپرستانو د سرپرستۍ د عقد په اړه سره خپلو کې شخړه کول - چې ټول ورته يو برابر نږدې وو- نو عقد د هغه چا دی چې له دوی څخه لومړی ورمخکې شوی وي او د ښځې مصلحت پکې وي، او که چيرته يې سرپرست له ودولو انکار کاوه، نو دا داسې ده لکه سرپرست چې نه لري؛ پدې حالت کې به يې پادشاه يا قاضي او داسې نور سرپرستان وي، که نه نو د سرپرست په شتون کې پادشاه د سرپرستۍ حق نه لري.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/58067